# د انقلابی شورا په تاریخی غونډه کی د ببرک کارمل رپورټ

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا ستره او تاریخی غونډه د افغانستان د خلک د دموکراتیک گوند د مرکزی کمیټی د عمومی منشی، د انقلابی شورا د رئیس او صدراعظم ببرک کارمل په مشری د هغی شورا په مقر کی وشوه او په هغی کی د افغانستان د دموکراتیک جمهوری دولت اساسی اصول د ډیر صمیمیت او پیوستون په فضا کی د رایو په اتفاق تضویب شول.
د دغی غونډی په پیل کی د قرآن عظیم الشان څو آیتونه ولوستل شول او وروسته ببرک کارمل په یوه وینا سره غونډه پرانستله او ویی ویل : ۱۳۵۹/۱/۲۵

د لوی خدای په نامه !

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا د محترمو غړو، د ټول هیواد د رنځیدلو خلکو د آزادی په خاطر چی د اوږدو پیړیو په ترڅ کی یی د کورنیو او بهرنیو جبارو استثمارگرانو، استعمارگرانو، چپاولگرو جلادانو او ستمگرانو د جسمی او روحی، مادی او معنوی شکنجو لاندی یی لاس او پښی وهلی دی.

د اسلام مقدس دین ته د احترام د رعایت او د هغه د دفاع په خاطر د هیواد د ملی حاکمیت د ځمکی د تمامیت او ملی استقلال د دفاع په خاطر د ثور د بریالی انقلاب د ارزښتونو د دفاع په خاطر د سولی، دموکراسی، آزادی، ټولنیزی ترقی او د خلکو نیکمرغی او سوکالی په خاطر په گران هیواد افغانستان کی د میشته ورونو خلکو د ټولو قبایلو قومونو او ملیتونو د حقوقو د برابری په خاطر د ټولنیز، اقتصادی، سیاسی، فرهنگی، طبقاتی او ملی ستم او استثمار د ټولو ډولونو د بیخی له مینځه وړلو په خاطر د هیواد ټولو اوسیدونکو ته د پراخو دموکراتیکو آزادیو او حقوقو د برابرولو په خاطر، د قهرمان او انقلابی افغانستان د نوی ټولنی د جوړولو په خاطر، چی په هغی کی له سړی نه د سړی استثمار د تل لپاره له مینځه لاړ شی.

په ټولنه کی د امنیت او د فرد د مصئونیت او د انقلابی دموکراتیک قانونیت، د وروری او برابری او ټولنیز عدالت د بیا راژوندی کولو په خاطر او په خاصه توگه د گران هیواد افغانستان او د خلکو په وړاندی د مسوولیت د درک په اساس په یوه

دموکراتیکه او آزاده فضا کی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اساسی اصولو د څېړنی غور او تصویب په خاطر د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا دوهم اجلاس پرانیزم.

ببرک کارمل وروسته له هغه چی د انقلابی شورا تاریخی او درنده غونډه یی پرانستله د غونډی کرښلاره یی وړاندی کړه چی د انقلابی شورا د غړیو له خوا د رایو په اتفاق تصویب شوه ورپسی ببرک کارمل یو اوږد رپورټ وړاندی کړ چی متن یی دادی:

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا محترمو غړیو د ثور د ویاړلی انقلاب له بریالیتوب وروسته چی د افغانستان د خلک د دموکراتیک گوند، د کارگری طبقی او د افغانستان د ټولو زیار ایستونکو گوند په مشری وشو زموږ په هیواد کی د نوی طراز دولت د جوړیدو لپاره لازم اساسات منځته راغلل او اوس دغه د نوی طراز دولت د خپلی بشپړتیا په مشخصی لاری باندی روان دی.

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د موقتی اساسی اصولو اعلام او تسوید د ثور انقلاب د ارزښتونو د ټینگښت د هیواد د ملی او دموکراتیکی ودی او د افغانستان د راتلونکی اساسی قانون د جوړولو بنسټ په توگه د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت له عالی شورا سره د لویی جرگی د جوړیدو تر وختهپوری د نوی دموکراتیک نظم د ټینگښت لپاره د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت سیاسی نظام ټاکی، زموږ د هیواد د تاریخ په سرنوشت کی خاص اهمیت لری.

لکه چی تاسو ته ښرگنده ده د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د وزیرانو شورا د ۱۳۵۸ کال د حوت په ۳۰ نیټه د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د موقتی اساسی اصولو د مسودی د تدوین په برخه کی چی د افغانستان د ټولو خلکو د آزادی او خپلواکی ارادی نماینده گی وکړی ځینی تصمیمونه ونیول او په دی مقصد یی د عدلیه وزارت په چوکاټ کی یو خاص کمیسیون جوړ کړ چی وروسته بیا د سیاسی بیرو، حکومت او انقلابی شورا د رئیسه هیات او د افغانستان د

خلک د دموکراتیک گوند د مرکزی کمیټی د پلینوم له خوا په هر اړخیزه او دقیقه توگه وڅیړل شو او اوس د وروستی تصویب لپاره انقلابی شورا ته وړاندی کیږی.
موقتی اساسی اصول په خپله کلی طرحه کی د ټولنیز سیاسی او د اقتصادی نظام زموږ د هیواد د اتباعو، آزادیو، اساسی حقوقو او وظیفو او د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د دولتی جوړښت مهم اساسات به اعلام او تثبیت کړی.
دغه موقتی اساسی اصول د افغانستان د خلک د دموکراتیک گوند د سیاسی کړنلاری او هدفونو د تر سره کیدو په پروسه او د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت رول او وظیفی کلک ارزښتناک پړاو بلل کیږی زموږ د هیواد اقتصادی، ټولنیز، فرهنگی، ملی، مذهبی، قبیلوی خاص شرایط او نور خصوصیتونه به څرگند کړی د اصولو په منځ کی دغه مواد باید د جدی اهمیت لرونکی او لومړی درجه وبولو.
د ثور انقلاب د ارزښتونو، ملی حاکمیت، ملی خپلواکی، او زموږ د گران هیواد، د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د خاوری تمامیت دفاع د اسلام د مقدس دین احترام، رعایت او د مناسکو د اداکولو په برخه کی پوره آزادی.
د ټول ټولنیز جوړښت او د هیواد د سیاسی ژوند رښتینی دموکراتیزه کول د افغانستان خلکو ته د پراخو حقوقو او دموکراتیکو آزادیو ورکول د ملی سمسور اقتصاد منځته راوړل د عامه هوساینی د سطحی پرله پسی لوړوالی او د افغانستان د ټولو خلکو د اقتصادی ټولنیزی او فرهنگی ودی چټکتیا، د اداری دموکراتیک نظم منځ ته راتلل په سیاسی ژوند کی د برخی اخیستو له پاره د زیارایستونکو د پراخو قشرونو جلبول او د انقلابی دموکراتیک قانونیت ټینگښت د فردی حقوقو او د خلکو د مالکیت د ټولنی د نظم تامین او ساتنه د کورنی د کانون څارنه او دفاع د بشپړی سولی د تامین له پاره پر له پسی هلی ځلی او ملی حاکمیت او د خاوری تمامیت ته د احترام او د یو بل په کورنیو چارو کی د لاس نه وهلو له مخی د بین المللی پراخی همکاری د سیاست چلول د ثور انقلاب ډیره ښه ښیگڼه په هیواد کی د نوی طراز دولت او سیاسی قدرت را مینځ ته کیدل دی.

دغه ټکی په لاندی ډول د اساسی اصولو د رول په باره کی خپل مستقیم انعکاس میندلی دی پدی وینا چی د افغانستان دموکراتیک جمهوری دولت د کارګرانو، بزګرانو، کسبګرو، کوچیانو، روښنفکرانو او نورو زیارایستونکو او د هیواد د ټولو دموکراتیکو او وطنپالو قوتونو او ټولو ملیتونو او قومونو په ګډون د افغانستان د ټولو مسلمانو زیارایستونکو خپلواک او دموکراتیک دولت دی، په مسوده کی ویل شویدی چی دولت د خلکو د سوکالی او نیکمرغی لپاره خدمت کوی د وګړو سوله ایز خوندی او آرام ژوند هر اړخیز وده د هغوی د ملکیت، د حقوقو د حیثیت او ملی دود دستور ساتنه تضمینوی. د افغانستان په دموکراتیک جمهوریت کی دولتی قدرت په زیارایستونکو پوری اړه لری د پوره ملی او سیمه ییزو دولتی ارګانونو له خوا چی له دموکراتیکی لاری تامینیږی عملی کیږی.

د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند، د سیاسی تګلاری د اساسی موادو په نظر کی نیولو سره د اساسی اصولو په مسوده کی اعلامیږی چی د افغانستان په دموکراتیک جمهوریت کی د زیار ایستونکو قدرت د پلرنی وطن په ملی پراخی جبهی باندی متکی دی چی د هیواد ټول مترقی دموکراتیک او وطنپال قوتونه د افغانستان د خلک د دموکراتیک ګوند په مشری د مترقی آزادی او دموکراتیکی نوی ټولنی د جوړولو د عمومی پروګرام له مخی یو لاس او یو موټی کوی او هم په دولت او ټولنه کی د پلارنی وطن د ملی جبهی مقام ټاکی.

په دی توګه د پلرنی وطن - د ملی جبهی د جوړیدو لپاره د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت انقلابی شورا او حکومت هلی ځلی کوی حقوقی اساسات را مینځته کیږی.

د افغانستان د خلک د دموکراتیک ګوند د ثور د پرتمین انقلاب او د حفیظ الله امین د وګړنی ضد نظام په نسکورولو کی د ثور انقلاب د نوی پړاو په تدارک فیوډالی ضد او امپریالیستی ضد ملی او دموکراتیکو بدلونونو په طرحه او عملی کولو کی ستر خدمتونه سرته رسولی دی.

د اساسی اصولو په مسوده کی د افغانستان د خلک د دموکراتیک ګوند د کارګری طبقی او د افغانستان د ټولو زیارایستونکو، د ګوند رهبری کوونکی رول چی

زموږ په هیواد کی ټول انقلابی بدلونونه د هغه له فعالیتونو سره نه شلیدونکی اړیکی لری تصوییبیږی.

په اساسی اصولو کی ویل شویدی چی د افغانستان د خلک دموکراتیک گوند د افغانستان د خلکو د ارادی له مخی په خپل کورنی او بهرنی سیاست کی د ملی او دموکراتیک انقلاب اصول د خپل عمل ملاک گرزولی د ثور انقلاب د هدفونو او وظیفو تدریجی تعمیل ټاکی د عادلانه او د فرد له خوا د فرد له استثمار څخه د خلاصی نوی ټولنی په جوړولو کی د هیواد د ټولو خلکو د مبارزی لارښودنه کوی.

د پلرنی وطن د ملی جبهی د پراختیا او ټینگتیا پروسه او د هیواد په سیاسی اداره کی د زیارایستونکو د پراخی برخی اخیستنی تامین به تر زیادی اندازی پوری د پرگنیزو او ټولنیزو سازمانونو د فعالیت او صلاحیت په پراختیا او ودی باندی متکی وی.

پدغه دموکراتیک ضرورت باندی په اتکا سره په مسوده کی اعلامیږی چی د افغانستان په دموکراتیک جمهوریت کی د کارگری اتحادیو د ښځو او ځوانانو د سازمانونو علمی، فرهنگی، هنری، ټولنیز او د زیارایستونکو د نورو ټولنیزو او دموکراتیکو سازمانونو فعالیتونه د دولت له خوا حمایه او هڅول کیږی.

د افغانستان په دموکراتیک جمهوریت کی د اسلام د سپیڅلی دین د مقدساتو او عنعناتو ژور درناوی کیږی . د افغانستان د خلک دموکراتیک گوند ، مرکزی کمیټه د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت انقلابی شورا او حکومت له دی ټکی سره په ډاگه بیا بیا تماس نیولی دی.

د دغه اصل له مخی په مسوده کی د اسلام د سپیڅلی دین په وړاندی د دولت اصولی او له درناوی ډک دموکراتیک سلوک اعلام او تاکید شویدی د ټولو مسلمانانو له پاره د دینی مناسکو د اداکولو په مقصد پوره آزادی او ډاډه فضا تضمینیږی.

دولت د دینی شرافتمندو روحانیونو او عالمانو له وطن پالونکو فعالینونو د هغوی د وظیفو او مکلفیتونو له اجرا سره کومک او مرسته کوی.

د نورو ادیانو پیروان د خپلو دینی او مذهبی مراسمو په اجراء کی پدی شرط پوره آزادی چی د ټولنی امنیت او سوکالی تهدید نکړی او له بشر دوستانه اصولو سره

سم وی. څنګه چی د دین او خلکو دښمنان د امپریالیزم ګوډاګیان د اسلام د پاک دین تر نامه لاندی هلی ځلی کوی چی یو شمیر مسلمانان بی لاری کړی او د افغانستان د خلکو د مترقی او انقلابی ښیګڼو پر خلاف یی ولمسوی
د اساسی اصولو په مسوده کی ټینګار شویدی چی هیڅوک حق نلری د اسلام له سپیڅلی دین څخه د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د خلکو د ګټو پر خلاف د نورو عملونو د ارتکاب د وسیلی په نامه د ملی ضد او وګړنی ضد د خلکو د آزادی ضد او ملی خپلواکی ضد د ملی حاکمیت ضد او د ځمکی د تمامیت ضد تبلیغاتو په مقصد استفاده وکړی.
افغانستان د کمیت په لحاظ کوچنی او یا لویی، د افغانستان د ټولو ورونو خلکو پښتنو، تاجکو، هزارو، ازبکوو، ترکمنو، بلوڅو، نورستانیو نورو قومونو او ملیتونو او ددی هیواد اسلام د مقدس دین د مذهبونو د پیروانو سنی دی که شیعه ګډ او واحد وطن دی.
او د هغه په خاوره کی ګڼ شمیر قبایل او کوچیان ژوند کوی.
په افغانستان کی د تل د پاره د پخوانیو منسوخو رژیمونو د نژادی او ملی توپیر ظلم او ستم سیاست پای ته رسول شویدی ملی امتیازونه او محدودیتونه لغوه او د ټولو قومونو، ملیتونو، قبایلو او د هغوی د ژبی او فرهنګ د آزادی ودی له پاره لازم شرایط پیدا شویدی.
د اساسی اصولو په مسوده کی د ثور انقلاب له هدفونو او ارمانونو سره سم اعلام شویدی چی د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د افغانستان د ټولو ملیتونو، قومونو او قبایلو د حقوقو د برابرتیا، د وروروولی د دوستی او هر اړخیزی ودی د مرستی سیاست عملی کوی د هغوی دموکراتیک او قانونی حقوق تضمین او د هیواد د ټولو ملیتونو قومونو، او قبایلو، ډیر ښه ارزښتناک فرهنګی میراثونه او دود دستور تثبیت او ساتی.
د افغانستان دموکراتیک جمهوری دولت د هیواد د ټولو سیمو د اقتصادی، ټولنیزی او فرهنګی ودی په سطحه کی د ټولو نابرابریو پوره له مینځه وړل خپل یو ډیر مهم هدف ګنی.

دولت د کوچیانو، قبایلو او مالدارو له پاره په عادلانه توگه له څړځایونو څخه د ورپیا استفادی امکانات تضمینوی د هیواد په قلمرو کی د کوچیانو له پاره آزادانه گرځیدل تضمینوی او هغوی ته لازمی مادی مرستی رسوی . د افغانستان د خپلواکی د دفاع په کار کی زموږ د خاوری په جنوبی او جنوب ختیځو سیمو کی زموږ د میشته پښتنو قبایلو د ارزښتناکی ونډی له مخی د اساسی اصولو په مسوده کی راغلی دی چه دولت د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د جنوبی او جنوب ختیځو سرحدونو د دفاع په کار کی او د خپلی استوگنی په سیمو کی د سولی او سوکالی د تامین په کار کی د هیواد د قبایلو د مشرانو او سپین ږیرو د وطنپالونکی رول ملاتړ کوی او د دغه شریفانه او وطنپالونکی فعالیت په اغیزمن تعمیل کی هر اړخیزه مرسته کوی.

د افغانستان دموکراتیک جمهوری دولت په بین المللی ډگر کی د یوه سوله دوست دولت په توگه رامینځ ته شو.

د اساسی اصولو په مسوده کی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د سوله دوست بهرنی سیاست اساسی کرښی اعلام شویدی.

په نورو اصولو سربیره د افغانستان د دموکراتیک جمهوری دولت د انترناسیونالیستی پیوستون د اصولو په بنیاد له ټولو سوسیالیستی هیوادو په تیره بیا له شوروی اتحادسره د هر اړخیزی دوستی پراختیا او ټینگتیا ته او په روغه جوړه کی د گډ ژوند د اصولو له مخی له نورو ملکونو او په تیره بیا له گاونډیو دولتونو او د ناپیلو هیوادو له ټولو دولتونو او مسلمانو خلکو سره د دولتی دوستانه اړیکو تامین او ټینگتیا ته ځانگړی پام ساتی.

په مسوده کی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اقتصادی نظام اساسات تصویب شویدی ددی مطلب په قید سره چی په اوسنی افغانستان کی ډول ډول ملکیتونه شته. په مسوده کی ټینگار شوی دی چی دولت هر ډول قانونی ملکیت دولتی ملکیت یعنی د خلکو د عامه ملکیت، کوپراتیفی ملکیت، خصوصی ملکیت او شخصی ملکیت ساتنه او دفاع کوی، تر ځمکی لاندی منابعو نورو طبیعی منابعو د انرژی د منابعو، بانکونو، د بیمی د موسسو په درندو صنایعو کی

د تولید د مهمو وسایلو مخابراتی دستگاو رادیو تلویزیون ملکیت د دولت په انحصار کی دی.

پدی ترخ کی یادونه شوی د خلکو د عامه ملکیت ځانګړی ملاتړ کیږی او دغه راز دولت د هغو شرکتونو د فعالیت چی په هغو کی دولتی ونډی شته هڅونه ملاتړ او څارنه کوی.

د افغانستان د خلک د دموکراتیک ګوند د کرنی د تګ لاری او د ځمکو د دموکراتیکو اصلاحاتو د دوام د مخکینی اعلام شوی تګ لاری له مخی په مسوده کی ویل شویدی چی دولت د قانون له احکامو سره سم پر ځمکی باندی د بزګرو او نورو ځمکه والو ملکیت تضمینوی له بزګرو سره د کرنی د چارو په ګټهور پرمختګ کی لازمه مرسته کوی او د تولیدی استهلاکی کوپراتیفونو او د کرنی په چارو کی د نورو ډول ډول کوپراتیفونو او د کرنی په چارو کی وده هڅوی او ملاتړ یی کوی.

د استهلاکی شیانو د تولید پراختیا او د ملی صنایعو د انکشاف او د صنایعو او د اقتصاد د نورو برخو په وده کی د ملی خصوصی سکتور د برخی اخیستنی په مقصد د اساسی اصولو په مسوده کی راغلی دی چی د کسبګرو د تولیدی چارو او د تولید په کوپراتیفونو کی د هغوی د خپلی خوښی د یوالی هڅونه او ننګه کوی.

دولت له قانون سره سم د خصوصی ملکیت ملاتړ کوی خو د ټولنی او خلکو د ګټو پر خلاف له خصوصی ملکیت څخه استفاده مجازه نه بولی.

د لومړی ځل لپاره د خصوصی ملکیت مصئونیت چی له روا لاری لاس ته راغلی وی او د فرد او کورنی د اړتیاو له پاره تری کار اخیستل کیږی قانوناً په رسمیت پیژندل کیږی.

د ټولنیزی سوکالی او فرهنګ د سطحی د لوړولو په برخه کی په مسوده کی اصول او هدفونه اعلام شویدی چی د هغو په عملی کیدو سره د فیوډالی او فیوډالی نه مخکی مناسباتو پاتی، بیسوادی، نیستی، رنځ او ټولنیزی نابرابری له مینځه ځی او د خلکو د پرګنو د فرهنګ او شخصیت د انډولیزی ودی امکانات پیدا کیږی.

د دی مقصد له پاره د بیسوادی د بیخی له مینځه وړلو د پوهنی د روغتیا ساتنی ټولنیزو تاسیساتو علم او تخنیک، فرهنګ او هنر بدنی روزنی او ورزش او عامی خدمتونو د چټکی پرمختیا په لاره کی پر له پسی پروګرامونه عملی کیږی.

دغه راز په مسوده کې د ځوانانو دغه د نوې دموکراتیکې ټولنې د جوړونکو د ځارنې په برخه کې د دولت مهمې وظیفې ټاکلې شوې دي د اساسي اصولو په مسوده کې د اتباعو له پاره دموکراتیک حقوق او آزادۍ طرحه او تضمین شویدي او د ټولنې او دولت په وړاندې د اتباعو مهمې وظیفې په ګوته شویدي.
په مسوده کې د قانون په وړاندې د نژادي او قبیلوي، ژبې، جنس د استوګنې د ځای دین او مذهب، تحصیلاتو، نسب، شتمنې او ټولنیز دریځ د تعلق په نظر کې نیولو پرته د ټولنې د اقتصادي سیاسي ټولنیز او فرهنګي ژوند په ټولو برخو کې د اتباعو د حقوقو د برابرتیا اصول تثبیت شویدي دي.
پدې ترخ کې ویل شوي دي چې هیڅوک نشي کولای د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د ګټو او ښیګڼو او د نورو اتباعو د حقوقو او آزادیو پرخلاف له دموکراتیکو حقوقو او آزادیو څخه استفاده وکړي په مسوده کې د اتباعو د ټولنیزو سیاسي او فردي حقوقو او آزادیو د ملي او دموکراتیک ژوند په تعمق کې د دولت د ځانګړې مینې مستقیمه نتیجه تثبیت شوې ده.
په همدې ډول د اساسي اصولو په مسوده کې د اتباعو ستري وظیفې له هغو څخه د قانون احترام او دهغه رعایت د ټولنیز او انساني چال چلند رعایت د وظیفو او وجیبو صادقانه سرته رسول او د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د نورو کسانو قانوني حقوق او ښه ویاړ مشخص شویدي د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اساسي اصولو په مسوده کې ټولنیز صادقانه او ګټور کار د وطن د هر وګړي له ویاړه ډک دندې بلل کیږي.
د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د وسله وال پوځ په لیکو کې خدمت او زموږ د مقدس وطن ګران افغانستان او د ثور انقلاب د ارزښتونو دفاع ښه او مقدس کار دي.
په مسوده کې ویل شویدي، چې د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت وسله وال پوځ د انقلاب د ارزښتونو، ملي خپلواکۍ، یووالي د ځمکې د تمامیت او دهیواد د ملي حاکمیت او د خلکو د آزادۍ او امنیت دفاع کوي.

دولت د وسله وال پوځ د پیاوړتیا او ټینګښت په تولنیز ژوند کی د وسله وال پوځ د منسوبینو د فعالی برخی اخیستنی تامین د سربازانو او افسرانو د کورنیو د ژوند د شرایطو د ښه والی په باره کی لازم تدبیرونه نیسی.
د خلکو د دموکراتیکو حقوقو او آزادیو او د هغوی د اساسی وظیفو تثبیت د افغانستان په دموکراتیک جمهوریت کی د مرکزی اساسی اصولو څخه د فرد نوی حقوقی مقام دی او دولت د هغه د ودی او ټینګښت له پاره زیار باسی او دهغه د عملی کولو له پاره لازم سیاسی اقتصادی او ټولنیز او فرهنګی شرایط برابروی.
د دولتی او اداری دموکراتیک نظم مینځ ته راوړل د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت یو اساسی هدف دی د اساسی اصولو د مسودی د دولتی او اداری قدرت د ارګانونو په برخه کی د عمومی آزادو، پټو، مستقیمو او برابرو رایو اخستلو له لاری د دولتی قدرت د ډیر لوړ ارګان په توګه د لویی جرګی یا د عالی شورا د جوړیدو ملاتړ شوی دی لویه جرګه د خپل کار په لومړنی اجلاس کی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت اساسی قانون تصویبوی.
په مسوده کی یادونه شوی چی د لویی جرګی یا د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د عالی شورا له پاره د لازمو شرایطو د پیدا کیدو تر وخته پوری اوس، انقلابی شورا د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د دولتی قدرت ډیر لوړ ارګان ګڼل کیږی.
انقلابی شورا د اساسی اصولو د مسودی له مخی د مقننه قوی وظیفی پر مخ بیایی د انقلابی شورا رئیسه هیات حکومت او نور دولتی ارګانونه جوړوی، د دولت پرمختیایی اقتصادی، ټولنیز پروګرامونه او بودجه منظوروی د نورو هغو موضوعګانو په باره کی تصمیم نیسی چی د انقلابی شورا تصویب ایجابوی.
د انقلابی شورا د غونډو تر منځ موده کی د انقلابی شورا رئیسه هیات د انقلابی شورا دایمی فعال ارګان او د دولتی قدرت ډیر لوړ واکدار دی د اساسی اصولو په مسوده کی د انقلابی شورا د رئیسه هیات واکونه په ډاګه تنظیم شویدی.
د انقلابی شورا رئیسه هیات د دولت د ډله ییز ډیر لوړ مقام په توګه د انقلابی شورا د غونډو د جوړیدو د نیټی د ټاکنی د قوانینو د فرمانونو د نښانونو او مدالونو د

ورکړی د ټاکلو مجازاتو د بخښنې یا د کمولو او د نورو وظیفو د سرته رسولو وظیفې په غاړه لري.

د اساسي اصولو په مسوده کې د وزیرانو د شورا ترکیب، واکونه او وظیفې د دولتي قدرت د عملي کولو د اجرائیه لوړ ارګان په توګه مشخص شوي دي.

په ټول هیواد کې د ټولو ارګانونو، موسسو او اتباعو له خوا د وزیرانو د شوراد تصویبونو او نورو سندونو اجرا کول ضروري دي.

د اساسي اصولو مسوده د دولت د سیمه ییزو ارګانونو د تشکیل او فعالیت ستري کرښې او اصول ټاکي. د سیمه ییزو اداري ارګانونو تشکیل له هغو مهمو مسئلو څخه دي چې خلک یې له مرکزي لوړو ارګانونو څخه غوښتنه کوي.

د ثور انقلاب له نوي پړاو وروسته د قضایي دموکراتیک نظام د جوړولو له پاره مساعد شرایط او لاري چاري منځ ته راغلي دي.

د اساسي اصولو په مسوده کې د دموکراتیک قضایي نظام جوړیدل په دموکراتیکه توګه د قضاوت سرته رسول له هغو څخه په قضاوت کې خپلواکي محکمې د قانون په وړاندې د اتباعو برابري په ځرګندو غونډو کې په قضیو باندې غور د دواړو خواوو په مورنۍ ژبه محاکمه د تورن له پاره د دفاع حق د محکمو د فیصلو مدلل والی او نور اعلام او تثبیت شوي دي.

مسودې د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د څارنوالۍ د ارګانونو د جوړیدو او د فعالیت د لارو چارو مهم اصول ټاکلي دي. د اساسي اصولو په مسوده کې ځرګنده شویده چې لوی څارنوال د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د ارګانونو د فعالیت د رهبري دنده په غاړه لري او د څارنوالۍ ارګانونه د مرکزیت د اصل پر بنسټ واحد سیستم تشکیلوي او له لوی څارنوال او د ولایاتو، ښارونو، ولسوالیو او علاقداري له څارنوالیو څخه جوړ شویدي.

د څارنوالۍ ارګانونه خپلې دندې د سیمه ییزو ارګانونو له مداخلې څخه پرته په خپلواکه توګه اجرا کوي. د اساسي اصولو په مسوده کې ټینګار شویدي چې لوی څارنوال او څارنوالان د مرکزي او سیمه ییزو ارګانونو دولتي ګډو او خصوصي موسسو ټولنیزو سازمانونو او د چارو د مسوولینو له خوا د قوانینو د برابر تطبیق او احترام څارنه کوي.

دغه راز د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت له انقلابي شورا او د هغې له رئیسه هیات سره د لوی څارنوال مهمې اړیکې تنظیم شویدي.

د اساسي اصولو په مسوده کې د پخواني پریکړې له مخې د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت دولتي نښان او بیرق تشریح شویدي د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت اساسي اصول د یوه موقتي اساسي قانون اهمیت لري او د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اساسي قانون تر تصویبیدو پورې به نافذ وي.

د اساسي اصولو تصویب زموږ په گران هیواد کې د ربښتیني دموکراتیک او مترقي اساسي قانون د تدوین په لاره کې یو مهم پړاو گڼل کیږي.

اساسي اصول زموږ په هیواد کې د ملي دموکراتیک انقلاب د راتلونکي ودې او بشپړتیا او دهغه د وروستۍ برۍ په برخه کې د افغانستان د خلک د دموکراتیک گوند د سیاسي کړنلارې مستقیم ښکارندوی دی او په هیواد کې د دموکراتیک ژوند د عملي کولو او د خلکو د دموکراتیک دولت د ټینگولو له پاره کلکې او ټینگې ستنې پیدا کوي.

د اساسي اصولو تصویب د افغانستان د خلکو تر منځ پیوستون د ټینگښت او زموږ د هیواد د سیاسي نظم د گډوډولو د پاره د کورنیو دښمنانو د هلو ځلو د شنډولو په لاره کې یو مهم گام دی.

د ټولو دولتي ارگانونو او سازمانونو فعالیت د ورځینو قوانینو زیاتوالي او پراختیا د نویو حقوقي موسسو جوړیدل به د اساسي اصولو د احکامو له مخې وشي.

د نویو قوانینو او فرمانونو تسوید د اساسي اصول په تطبیق کې د اساسي وظیفو او مکلفیتونو ایجاد په هغه قوانینو کې بدلونونه او تعدیلات چې د اساسي اصولو د تصویب څخه وروسته نافذیږي او د هغو د سملاسي بدلون او تعدیل ضرورت وي د افغانستان د انقلابي شورا د رئیسه هیات او د دموکراتیک جمهوري حکومت په غاړه دي.

د افغانستان د خلک دموکراتیک گوند د مرکزي کمیتې سیاسي بیرو او پلینوم او حکومت او د انقلابي شورا رئیسه هیات ډاډ لري، چې د افغانستان د دموکراتیک

جمهوریت د انقلابی شورا محترم غړی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اساسی اصولو د تصویب په کار کی چی د هیواد د ملی او دموکراتیکو وظیفو د سرته رسیدو په لاره کی یو مهم گام بلل کیږی زموږ د گران هیواد افغانستان د رنځیدلو خلکو په وړاندی په پوره پوهی او د مسئولیت په احساس سره چلند کوی.
د انقلابی شورا له خوا د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اساسی اصولو په تصویب سره د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت په سیاسی او حقوقی پرمختیا کی نوی پړاو پیل کیږی.

ملگرو، دوستانو !

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا محترمو غړو !

هیوادوالو، د مسلمان او قهرمان افغانستان زموږ د خپلواک افغانستان د نوی او مترقی افغانستان، د دموکراتیک او ویاړلی سرلوړی او له غرور څخه د ډک افغانستان په سیمه او نړی کی د پرتمین او د جلال څخه د ډک انقلابی افغانستان بیرغ رپیږی.

ژوندی دی وی د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د گوند یووالی او زموږ د خلکو سره د انقلابی دولت پیوند. د افغانستان د ټولو زیار ایستونکو او آزادو خلکو یووالی د ثور د پرتمین انقلاب د هدفونو او آرمانونو د بریالیتوب ضامن دی.

ژوندی دی وی انقلاب، وړاندی د سولی او امنیت، خپلواکی او دموکراسی، دوستی او ورورولی، برابری، ترقی، او خوشبختی په لور !

* تایپ کامپیوتری از : ع . ق . فضلی

** تکیه ها از «اصالت» است.

*** هر نوع استفاده و نقل قول از «بیانیه ی ببرک کارمل در دوهمین اجلاس شورای انقلابی»
صرف با ذکر منبع و نام سایت «اصالت» مجاز است !

www.esalat.org